PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

کله چي شپېلی پوه کړی شي نو بیا به خپل منځي تولي اړیکي غوځي او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چي د هر چا تلی درني شوی نو همغوی بریمن دي. او د چا چي تلی سپکي شوی نو خانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کي پاتي وي، مخونه به یې په اور کي سوځي او تل به چینګ داړی وي. ورته به وویل شي چي آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چي تاسو به درواغ ګڼل.
(سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:
په جهنم کي یوه داسي کنده ده چي له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه خله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

شهادت دویم کال، ۹۱ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د مرغومی ۲۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۷ مه د۲۰۱۱ م د جنوری ۱۲ مه

د افغانستان د سولې عالي شورا پاکستان ته خپل سفر ګټور بللی

کابل، رسنی:
د دغه شورا پلاوی، چي تېره اوونی پاکستان ته سفر کړی و، د دوشنبې په ورځ په کابل کي په خبري غونډه کي راڅرګند شو او د پاکستاني چارواکو ملاتړ یې له مهمو لاسته راوړنو څخه وباله.

پاکستان ته د سولې د عالي شورا پلاوي د خپل سفر پایلي ګټورې بولي او وایي، چي د خپلو هڅو لپاره یې د پاکستاني چارواکو ملاتړ ترلاسه کړی دی.

د سولې د عالي شورا دغه پلاوی د تیرې اوونی په پای کي پاکستان ته سفر وکړ، څو د خپلو هڅو په اړه د دغه هیواد له چارواکو سره خبرې وکړي.

د دې شورا د دارلانشا مشر معصوم ستانکزي، چې د دوشنبې په ورځ یې په کابل کي په یوه خبري غونډه کي وینا کوله، وویل، چې له پاکستاني لوري سره یې د یوې ګډې کمیټې په جوړولو موافقه کړې، څو د دوی هڅې همغږې کړي.

نوموړي که څه هم د دواړو هیوادونو ترمنځ د دې کمیټې جوړول د دوی د سفر یوه مهمه لاس ته راوړنه وبلله، خو ویې ویل، چې د حزب اسلامي له استازو سره مخامخ خبرې د دوی د هلو ځلو موثریت ثابتوي.

"موږ د حزب اسلامي له پلاوي سره ځانګړې خبرې وکړې، چې دا خپله یو پرمختګ دی او دا د سولې لور ته یو ګام دی، نو دا ټول په دې معنی دی، چې د سولې عالي شورا خپلې هڅې پیل کړې.

فکر کوم، چې په شویو خبرو کي د سولې د عالي شورا پیغام په واضیح توګه وړاندې شو او د دغه درک ملاتړ وشو، چې دا خپله د هغو کسانو په شمېر کي کمي راولي چې جګړې ته استخدامیږي."

په افغانستان کي د سولې د عالي شورا له جوړېدو وروسته پاکستان ته دا د دې شورا د

پاتی ٤ مخ

مت رامنی:

حضور تروریستان در قلمرو پاکستان تهدید جدی برای افغانستان است

رسنی:
مت رامنی یکی از سیاستمداران امریکایی و والی سابق ایالت مسه چوسیت امریکا، حضور تروریستان در قلمرو پاکستان را تهدید جدی برای افغانستان و پاکستان خوانده است.

ریاست جمهوری افغانستان با پخش خبرنامهء گفته است، آقای رامنی روز گذشته با رییس جمهور کرزی در کابل دیدار کرد و گفت، امریکا می داند که تروریست ها در قلمرو پاکستان اند.

به گفتهء آقای رامنی، وضعیت فعلی پاکستان نشان می دهد که تروریستان نه تنها افغانستان

بقیه در صفحه ۴

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

پیترایيس:

جنګېدونکي طالبان د خپلو مشرانو اوامر نه مني

تاند:
په افغانستان کي د ناټو عمومي قومندان جنرال ډیویډ پیترایيس د دوشنبې په ورځ وویل چې د افغانستان په جنوب کي د هغه افغان قوم ژمنه چې د طالبانو په وړاندې به درېږي، ښيي چې په دې سیمه کي پوځي هلي ځلي پرمختګ کوي او سخت دریځي یاغیان ترفشار لاندې دي.

په وروستیو کي د هلمند ولایت د سنګین ولسوالی د ښاروان کلا قومونو، چي اکثره الکوزي دي، د هلمند له والي سره ژمنه وکړه چې د دوی له سیمې څخه به پر افغان او نړیوالو ځواکونو حمله نه کېږي او بهرني طالبان به نه پرېږدي چې د دوی سیمې ته ورشي.

پیترایيس د هلمند په مرکز لشکرګاه کي اسوشیتید پریس خبري اژانس ته په مرکه کي وویل چې ناټو او د

پاتی ٤ مخ

د ناټو په بمباری کې ۳ پولیس ووژل شول

تاند:
ناټو وویل چې د افغانستان په مرکزي برخه کې د دوی د هوایي ځواک په بمباری کې ممکن دري افغان پولیس وژل شوي او دري نور ټپیان شوي وي.

دا به په څه باندې یوه میاشت کې دریمه ورته پېښه وي.

د ناټو ځواکونو له یوې خبرپاڼې سره سم د نړیوالو ځواکونو ګزمې د یکشنبې په ورځ په دایکنډي ولایت کې هغه مهال د هوایي ځواک مرسته وغوښته چې دوی ته نهه تنه د حملې لپاره د تیاري په حال کي ښکاره شول.

خو وروسته څرګنده شوه چې په نښه شوي کسان لکه چې د افغانستان د ملي پولیسو غړي دي.

د ایساف یوه ویاند ډګروال رافیل تاریس په یوه خبرپاڼه کې ویلي، سره له دې چې نړیوال ځواکونه د عملیاتو په وخت له خورا زیات احتیاطه کار اخلي څو تېروتنه ونه

پاتی ٤ مخ

دننګرهار کانال له ۲۳ کلن ځنډ وروسته خپلې ځمکې کري

دننګرهار د کانال ریاست چې له تیرو ۲۳ کلونو را په دېخوا یې دبیلابیلو ستونزو له امله نه شو کولی په دې ولایت کې خپلې ځمکې وکري سږ کال له دې اوږد ځنډ وروسته په دې وتوانیده، چې په خپله ۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې غنم وکري او دا لړی یو ځل بیا پیل کړي. ددغه ۲۳ کلن ځنډ په موده کې دا ځمکې دعامو بزګرو له خوا داجارې له مخې کرل کیدې، چې له دې وروسته به یې په خپله دننګرهار دکانال ریاست له خوا دکرنې چارې پرمخ بیول کیږي.

دننګرهار دکانال ریاست دچارواکو په وینا په دې ځمکه کې ۲۰۰۰ هکتاره یې دخوړو او پاتې هغه به یې داصلاح شوي تخم لپاره کرل کیږي. دکانال ریاست درئیس انجینر محمد حکیم په وینا ددوی داټکل له مخې به دغه ځمکه ۹۰۰۰ ټنه غنمو حاصل ور کړي. او په خبره یې ۲۰۰ هکتار ځمکه به داصلاح شوي تخم او نوره به یې دخوړو لپاره وکرل شي: (زموږ داټکل له مخې به دا ځمکه ۹۰۰۰ زره ټنه غنم وکړي، چې له دې جملې به د ۲۰۰ هکتاره ځمکې غنم داصلاح شوي تخم لپاره وي او نور به یې

پاتی ٤ مخ

هیلري کلینټن:

عربي هیوادونه دې د منځني ختیځ په سوله کې ډېرې هڅې وکړي

نړیوال رسنی:
د امریکا د بهرنیو چارو وزیره وایي پر ایران باندې د نړیوالې ټولنې نویو بندیزونو د اټومي وسلو د جوړولو لپاره ددغه هیواد هڅې ټکنی کړي دي. هیلري کلینټن چې د خلیج له عربي هیوادونو کتنه کوي تهران تورن کړی چې د خپل اټومي پروګرام څخه د نړیوالو د پام اړولو په هدف په منځني ختیځ کې نوي شخړه راپاروي.

میرمن کلینټن ویلي عرب هیوادونه باید پر ایران د لګول شوو بندیزونو د اغیز د پراخوالي لپاره ګامونه واخلي او له اسرایلو سره د پراخې روغې جوړې له لارې د فسطینیانو او اسرایلو ترمنځ د سولې د پروسې د بیا پیل لپاره رول ولوبوي.

د اسوشیټیډ پریس اژانس د راپور له مخې هیلري کلینټن ویلي چې پر ایران باندې تازه بندیزونو ددغه هیواد د اټومي پروګرام بهیر له ستونزو سره مخامخ کړی او نړیواله ټولنه اوس

پاتی ٤ مخ

اویا فیصده هالنډیان افغانستان ته د پوځیانو د لیږلو مخالف دي

د هالنډ لومړي وزیر د جمعې په ورځ په خبري کنفرانس کي وویل چي د پارلمان تر هوکړي وروسته چمتو دی ۲۲۵ د پولیسو او پوخ روزونکي، ۵ عدلي کارپوهان او ۱۲۰ پوځي اکمالاتي کارکوونکي د افغانستان شمال ته ولیږي.

په سل کي اویا هالنډیان د لومړي وزیر ښاغلي روته د دې پلان مخالف دي چي غواړي افغانستان ته د روزونکو په توګه پوځیان ولیږي، دا شمېره د هغو رسمي معتبرو احصائیي له مخي څرګنده سوه چي د یوې اوونی په جریان کي په مخامخ توګه او بریښنایي ډول تر سره سوه، تېره اوونی چي په لومړي افغانستان ته د هالنډیانو د بیا ورتګ خبري له رسنیو خپرې سوې په دې شمېر د مخالفت فکر نه کېدئ، کله چي د هالنډ ددفاع وزارت چارواکو وویل چي نه غواړي د افغانستان په شمال کي په جرمني سرتېرو خپل امنیت وساتي، له تېرو تجربو یې دا زده

پاتی ٤ مخ

که ځانګړې قضایي محکمه د ولسي جرګې د ټاکنو پایلې ومني؟

دویم مخ

سوله؛ سیمه ییزه اړتیا

دریم مخ

د اسلام په تاریخ کې لومړنی پیښې

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ایران دې له عقل او هوش نه کار واخلي

هرچاته پته ده چې ایران د افغانستان د تیلو ټانکرونه چې شمېر یې ۲۷۰۰ ته رسیږي د افغانستان پولي ته نږدي ودرولي دي، او نه پرېږدي چې افغانستان ته واوړي او د افغانانو اړتیا چې د ژمی په سخت موسم کې ورسره لاس او ګریوان دي پوره کړي.

له کومې ورځې چې ایران د تیلو ټانکرونه نیولي دي له همغې ورځې راهیسې په افغانستان کې د تیلو په نرخونو کې زیات والي راغلی او افغانان د ژمی په دې سخته یخنی کې له یو لړ ستونزو سره لاس او ګریوان دي، نه یوازې دا چې د تیلو بیه په سلو کې اویا لوړه شوې بلکې کرایه او د خوراکي موادو بیه هم له آسمان سره خبرې کوي.

کله چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت لومړی مرستیال قسیم فهیم د دسمبر د میاشتې په وروستیو کې ایران ته په یو رسمي سفر لاړ او هلته یې له ایراني چارواکو د تیلو د ټانکرو د خوشې کولو غوښتنه وکړه ایراني چارواکو ددغو ټانکرو د خوشې کولو پخه ژمنه خو ورسره وکړه مګر عمل یې ورباندې تر ننه ونکړ.

ځینو افغاني شنونکو له هغې ورځې د ایران په دې ژمنه شک او اندېښنه ښکاره کړې وه چې کله قسیم فهیم ته په سوغات کې ټوپک ورکړ، د ایران دغه کار یې یو بد شګون وباله او دا اندېښنه یې ښکاره کړه چې ایران ددغه کار په ترسره کولو افغانستان ته د دښمني یو څرګند پیغام ورکړی چې لدې وروسته دې افغانان له ایران نه د دښمنی پرته د بل څه هیله ونه کړي. واقعاً همداسې وشوه او ایران د تیلو د ټانکرونو په بندولو د دښمنی یو بل باب پرانست، که څه هم ایران له افغانانو سره وخت ناوخت د خپلې کړکې څرګندونه په مختلفو بڼو کې کړې ده خو افغانان ورته همېشه د ښه ګاونډیتوب او دوستی لاسونه وراوږد کړي دي.

سره لدې چې ایران د افغانانو په هغو مجبوریتونو او مشکلاتو ښه پوه دی چې د دریو لسیزو راهیسې ورسره لاس او ګریوان دی، د بد امنی او اقتصادي ستونزو له لاسه په ګاونډیو هېوادونو کې د هجرت سختې شپې سبا کوي، مګر ایراني چارواکي ددغو مجبورو او ځوریدلو کډوالو له کړولو څخه ډډه نه ده کړې زرګونه افغانان یې په جیلونو کې اچولي او لسګونه نور یې د پانسي په تختو ځېژولي دي. خو ددې ټولو تیریو او ظالمانه کړنو باوجود بیا هم ایران له افغانانو سره د دوستي سینه ډبوي او هر وخت همدا یوه خبره کوي چې افغانان زموږ ګاونډیان او مسلمان ورونه دي.

اوس پوښتنه داده چې آیا ایران د ګاونډي او خپل مسلمان ورور حقوق هم پیژني او که نه؟ دنه پیژندلو سوال خو له سره نه پیدا کیږي چې برئت ورته ورکړی شي، نو ځکه لدې پرته بل څه نشو ویلی چې ایران دداسې کړنو په ترسره کولو نه د ګاونډیتوب حقوقو ته پاملرنه کوي او نه هم اسلامي او بین المللي اصولو ته، آخر دا کوم اسلامي او بین المللي اصول دي چې په دې سخته یخنی کې چې افغانان تیلو ته ډېر اشد ضرورت لري په تیلو بار ټانکرونه یې پخپله خاوره کې له قانوني او شرعي مجوزه پرته ایساری کړي دي او د افغانستان کړیدلي ولس یې له یو عالم پریشانیو سره لاس او ګریوان کړی دی. د ښه ګاونډیتوب او اسلامي ورورولی غوښتنه خو داده چې د خپل ځوریدلیو او غمځپلو ورونو پر ټپونو د مرهم پټی کېښودل شي او مشکلات یې حل کړی شي مګر ایران برعکس په داسې سختو حالاتو کې چې افغانانو ته د تیلو یوه څاڅکی هم حیاتي ارزښت لري د تیلو څه کم درې زره ټانکرونه پخپل هېواد کې ایساری کړي دي. افغانان چې همېشه لپاره یې ایران ته د دوستي لاسونه ور اوږده کړي او د ښه ګاونډیتوب اړیکې ورسره ساتل غواړي دهغوی دغه کړنه د ښه ګاونډیتوب او اسلامي ورورولي پر ضد بولي. ایران او نورو ګاونډیو هېوادو ته خو ښکاره ده چې په داسې سختو او حساسو شرایطو کې افغانان یواځې پرې نږدي، دهغوی د مشکلاتو او پریشانیو په کمولو کې دخپلې اسلامي ورورولي او ښه ګاونډیتوب مسؤولیت ترسره کړي.

ګاونډي هېوادونه په حقیقت کې پخپلو کې د یو بل ضرورت او ممد دي، که الله مکړه افغانان له دغو ورپېښو مشکلاتو او کړاوونو ونه ویستل شي او ګاونډي هېوادونه ددې په لیری کولو کې له بل هر چا زیاته ونډه وانخلي نو ددې مطلب به دا وي چې دوی هغه ښاخ په تبر وهي په کوم چې ناست دي، د افغانستان استحکام د ګاونډیو هېوادو استحکام دی او عدم استحکام یې د ګاونډیانو او د سیمې نورو هېوادو عدم استحکام دی، دې له پاره چې افغانستان پخپلو پښو ودریږي او له دې موجوده حالاتو نجات ترلاسه کړي ددې خبرې ضرورت دی چې ګاونډي هېوادونه په بشپړ اخلاص له افغانستان سره خپله مرسته جاري وساتي او له داسې کړنو دې ډډه وکړي چې د افغانستان د کمزوری کېدو سبب ګرځي.

په دې سیمه کې افغانستان داسې یو محوري هېواد دی چې له دې سره ددې سیمې د نورو هېوادو، په ځانګړی ډول د ګاونډیو هېوادو راتلونکی تړل شوې، نو ځکه په افغانستان کې ثبات او استحکام راوستل د ګاونډیو هېوادو په ګټه دي، که الله مکړه په افغانستان کې استحکام او ثبات قایم نشي، دلته د جنګ جګړې او غربت د خاتمې لپاره کار ونشي نو په یقیني توګه ویلې شو چې ګاونډي هېوادونه به هم ډېر ژر د افغانانو په سرنوشت اخته شي.

ښه به دا وي چې ایران د حساسو شرایطو په نظر کې نیولو سره له عقل او هوش څخه کار واخلي د افغانستان په بې ثباته کولو سره دې خپلې وزرې پخپله نه غوځوي، د ګاونډیو او د سیمې نورو هېوادو استحکام او پرمختګ په دې کې دی چې پخپلو کې د ګاونډیتوب مضبوط لاسونه ورکړي او په ګډه د خپلو مشکلاتو د له منځه وړلو لپاره عملي ګامونه اوچت کړي که نه نو دوی به هم د افغانستان په څېر خپل هر څه له لاسه ورکړي. بیا به د حسرت لاسونه مروړي خو هېڅ ګټه به نه لري.

که ځانګړې قضايي محکمه د ولسي جرګې د ټاکنو پايلې ومني؟

سيد فضل مولى "لټون"



د روان کال د وږي په میاشت کې د ولسي جرګې ټاکنې چې له ډول ډول درغلیو خیانت، رشوت، تعصباتو، ملیت پالنې، د ټاکنو د کمیسیون له خپلسریو او خپلچاریو ډکې وې، زموږ د هېواد او هېوادوالو ټولې هیلې یې نه یواځې دا چې له خاورو سره خاورې کړې، بلکې په نړیواله سویه هم د افغانستان او افغانانو د بدنامی او رسوایۍ لامل شوې. په دې ټاکنو کې که له یوې خوا د جعلي کارتونو په وسیله د ملت د رأیو استازیتوب وشو، نو له بلې خوا د ځینی کاندیدانو له لوري ولس ته د جعل کاری داسې روزنه ورکړل شوه چې وروسته له دې به هر دفتري کار ته د جعل او تذویر په نظر ګوري او باور به نه کوي، چې ګوندي رښتیا او حقیقت به وي.

همدارنګه د یو شمېر کاندیدانو له خوا دفتري کارکوونکي په بیه واخیستل شول او په ټاکنیز مرکز کې یې د یوه کاندید پلوي کوله او دهماغه دجعلي او بیا خلي رأیو ورکولو له پاره یې د ټاکنو اصول تر پښو لاندې کول، ددې ترڅنګ ولسي وګړیو ته د کاندیدانو له لوري په خلاص متې رشوتونه ورکړل شول چې خپلې رأیې د ولسي ګټو په نظر کې نیولو پر ځای د پیسو ټکو په بدل کې وپلوري، د ملت د استازیتوب له پاره د مستحقو کاندیدانو پر ځای یې هغو څېرو ته رأیې ورکړې چې له بهرنیو تړاوونو سره سره په ولس کې په ډول ډول بدنامیو یادېږي.

سربېره پر دې د رأیو جعلي کارتونه زیاتره د ښځو په نامه کارول شوي دي، چې که همدا اوس دقیقه محسابه وکړای شي، څرګنده به شي، چې په هر ټاکنیز مرکز کې د ښځینه و رأیې د نارینه و دوه برابره دي، دا خو یې لا پرېږده چې یو شمېر کاندیدانو د افغانانو د ملي هویت د رأیو جعلي کارتونه په بهرني هېواد کې چاپ کړي او د هېواد دننه یې پر نورو کاندیدانو پلورلي دي، چې همدا په حقیقت کې یو ستر ملي خیانت دی.

همدارنګه د ټاکنو د کمیسیون له خوا د رأیو په دویم ځلي شمېرنه کې چې کومه درغلي شوې هغه خو د هېچا له سترګو پټه نه ده، چې په کابل کې د کابل او ولایاتو د نوماندانو د بریالیتوب لپاره ډالري ریټونه ټاکل شوي وو، چې حتی په رسنیو کې د یو شمېر معترضو نوماندانو له لوري له بېلګو سره وړاندې شوې او ولس پرې ښه ترا خبر شوی دی.

ښه نو که یادو شویو او دېته ورته نورو درغلیو ته په پام سره بیا هم که ځانګړې قضایي محکمه د ولسي جرګې د ټاکنو پایلې ومني، دې لاندې پوښتنو ته به څه ځواب وایي:

۱- ولس به بیا حاضر شي چې په ټاکنو کې د رأیو صندوقونو ته ولاړ شي؟

۲- هېواد او هېوادوالو ته د خدمت کولو د احساس څښتنان به د ټاکنو لپاره ځانونه ونوموي؟

۳- ولسي جرګې ته په درغلیو بریالي شوي غړي به د ولس استازي وي او که نه؟

۴- هغو کسانو چې له ولس نه یې د پیسو په بدل کې رأیې اخیستي، دهغو په زړونو کې به له ولس سره څه ډول همدردي موجوده وي او که نه؟

۵- هغو ولسي وګړیو چې په پیسو یې خپلې رأیې پلورلي دي د ستونزو د اوارې په اړه به په کومو سترګو خپلو استازیو ته مراجعه کوي؟

۶- آیا ښاغلي جمهور رئیس به مجبور نه وي چې د خپلې کابینې وزیرانو لپاره د ولسي جرګې نه د رأیو اخیستلو په خاطر هغوی ته رشوتونه ورکړي؟

۷- آیا د کابینې نوماند وزیران به له ولسي جرګې نه د رأیو اخیستلو پر وخت د ملیت پالنې له کرکې او نفرت سره مخامخ نه شي؟

۸- آیا لویه څارنوالي او ستره محکمه به د نوې ولسي جرګې له عکس العمل سره مخ نه شي؟

۹- آیا په ملي او بین المللي چارو کې به حکومت له ډول ډول ستونزو سره مخ نه وي؟

پورته پوښتنو ته ورته ډېرې داسې پوښتنې شته چې په دې حساسو شرایطو کې چې افغانستان ورسره مخ دی راولاړېدای شي. چې هم باید ښاغلی جمهور رئیس او هم ستره محکمه پرې په سړه سینه غور او څېړنه وکړي.

زما په نظر ښه به دا وي، چې موجوده پایلې وځنډول شي، د ټاکنو پر قانون له نوی سره غوره وکړای شي، ولایات په ټاکنیزو حوزو باندې وویشل شي، د ټاکنیزو مرکزونو د رأیو مجموعي شمېره چې په هماغه ورځ ترسره کېږي اخري شمېرنه وګڼل شي، د رأیو کارتونه لغوه او تذکرې د رأیو ورکولو معیار وګڼل شي. د شکایتونو د اورېدلو لپاره لادمخه یوه ځانګړې محکمه موجوده وي. د ټاکنو کمیسیون په ولایاتو کې د حوزه یي سستم د رأیې شمېرنو د نتایجو د رسمي اعلان مکلفیت ولري، دې ته ورته نور اصلاحات کولای شي چې زموږ په هېواد کې د جمهوریت راتلونکې تضمین کړي، او کنه نو د دیکتاتوري رژیمونو په څېر به د خپلې خوښې انتسابي نظام رامنځته کېږي، چې پایلې به یې زموږ په جګړه ځپلي هېواد کې د لا ویجاړتیا پرته بله ګانده ونه لري.

د اسلام په تاریخ کې لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

بې له شکه چې اسلام هغه لومړنی دین دی چې د زده کړې کولو غږ یې پورته کړی او انسانیت یې د پلټنې، کشف او د الله جل جلاله په کاڼناتو (مخلوقاتو) کې د نظر کولو په لور تشویق کړی دی. د دې خبرې د تایید لپاره همدومره بسیا ده چې د قرآن کریم لومړی آیت د [اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِی خَلَقَ، ...] سره شروع شوی دی.او نور ځومره زیات آیاتونه او حدیثونه چې خلک د زده کړې په لور تشویقوی بلکه زده کړه ورته واجب ګڼي راغلی دي. لکه څنګه چې اسلامي تمدن په ټولو تجربوي علومو کې په لومړیتوب ویاړي، همدارنګه معنوي لوري ته هم د پوره حق ور کولو ویاړ لري. د دی کتاب د عمده موخو نه یوه دا ده چې د اسلامي أمت بچیان د خپل لرغونی تاریخ نه خبر کړی او دا ور په یاد کړي چې د دوی نیکونه د ټولو موجوده علومو مؤسسین دی. دا دی د دی مدعا د اثبات لپاره د اسلام په تاریخ کی لومړنی پیښی د سوال او ځواب په شکل کی د ځوانانو خدمت ته وړاندی کوو الله پاک دی و کړي چې ګټه ترې پورته کړي.

تر هر څه د مخه پر انسان د توحید زده کړه فرض ده، هغه توحید چی په نتیجه کی یی انسان په الله جل جلاله، پرېښتو، کتابونو، پیغمبرانو، د آخرت په ورځ او د خیر و شر په اندازه د پوخ ایمان خاوند کیدای شی.

س ۱: لومړنی پیغمبر څوک دی؟

ځ: لومړنی پیغمبر آدم علیه السلام دی.

س ۲: چا د لومړی ځل لپاره کعبه جوړه کړه؟

ځ: کعبه د لومړی ځل لپاره د آدم علیه السلام ځوی (شیث) جوړه کړی او دا هم ویل شوی چی آدم علیه السلام پخپله جوړه کړی ده.

س ۳: لومړی وحی کله پر پیغمبر علیه السلام نازل شوه؟

ځ: د روژې مبارکې میاشت په ۷ مه د دوشنبی په ورځ، او دا هم ویل کیږی چی په ۱۷مه د روژی او دا هم ویل کیږی چی په ۲۷مه د روژی او همدارنګه ویل کیږي چې د ربیع الأول په ۱۸ مه د پیغمبر د زیږیدنی په ۴۱ کلنی کی چی ۶۱۰م کال سره برابره ده نازل شوی ده.

س ۴: څوک د لومړی ځل لپاره په هغه څه خبر شو چی پیغمبر علیه السلام ته د وحی پر مهال ور پیښ شوی و؟

ځ: د پیغمبر علیه السلام میرمن بی بی خدیجه د خویلد لور رضی الله عنها.

س ۵: هغه لومړی کس څوک و چې پر پیغمبر علیه السلام د وحي د نازیلیدو خبر و؟

ځ: ورقه د نوفل ځوی. کله چی پیغمبر علیه السلام د خپلی میرمن بي بي خدیجی په غوښتنه د خدیجی د تره د ځوی ورقه کره ولاړ، نو هغه ورته وویل: کاش چی په هغه ورځ له تاسو سره یم چې خپل قوم دی د کلي نه شړی. پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل آیا ما به شړي! ورقه وویل: هیڅا هم ستا په شان څه نه دي راوړي مګر له هغه سره دښمني شوی ده، که چیری په هغه ورځ ژوندی وم نو ستا پوره مرسته به و کړم خو ورقه ژوندی پاتی نه شو.

س ۶: کوم آیت په قرآن کی لومړی نازل شوی دی؟

ځ: [اقرأ باسم ربک الذی خلق].

س ۷: پیغمبر (ص) لومړی کوم کار کړی دی؟

ځ: د پیغمبر علیه السلام لومړی کار د حجر اسود تیږې په ایښودو کی د هغه فیصله وه، دا کار هغه وخت پیښ شو کله چی قریشو کعبه جوړوله او په دې خبره سره وران شول چی څوک به حجر اسود پر خپل ځای ږدي، بالاخر په دی خبره متفق شول چی هر هغه څوک چې لومړی د بنی شیبه دروازې له طرفه راښکاره شي د دې تیږې په ایښودو کی به د هغه حکم منو، نو محمد صلی الله علیه وسلم لومړی هغه څوک و چې د بني شیبه دروازی له طرفه راښکاره شو، هغه د الله جل جلاله رسول، او په امین پیژندل شوی درون شخصیت و، د چټلو او بیهوده کارونو نه په ډډه کولو مشهور وو، د هغه حکم ته یی غاړه کیښوده، محمد صلی الله علیه وسلم خپل څادر خپور کړ، او تیږه یی د هغه په مینځ کی کیښوده، بیا یی د قریشو مشرانو ته وویل چی هر یو د څادر یوه پیڅکه و نیسي، بیا یی تیږه له ځمکی پورته کړه او خپل ځای ته یی نږدی کړه، وروسته پیغمبر صلی الله علیه وسلم تیږه را واخسته او پر خپل ځای یی کیښوده. دا د محمد صلی الله علیه وسلم لومړی کار وو چی ښکاره شو.

س ۸: د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لومړی کار په مدینه کی څه و؟

ځ: په مدینه کې د مسجد جوړول د پیغمبر صلی الله علیه وسلم لومړی کار و.

س ۹: د ازادو خلکو نه څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: ابو بکر صدیق رضی الله عنه د ازادو خلکو نه لومړی سړی وو چی مسلمان شو.

س ۱۰: د بني هاشم له قبیلی نه څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: علی رضی الله عنه د بني هاشم دقبیلی هغه لومړی څوک وو چی مسلمان شو.

س ۱۱: د ښځو نه څوک لومړی مسلمانه شوی ده؟

ځ: خدیجه د خویلد لور لومړنی ښځه ده چی مسلمانه شوی ده او هغه د ښځو (صدیقه) ریښتینی ده.

س ۱۲: د هلکانو نه څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: علی رضی الله عنه د عمر په ۱۳ کلنی کی مسلمان شو.

س ۱۳: څوک د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه وروسته په مطلق شکل مسلمان شو؟

ج: خدیجه د خویلد لور لومړی هغه ښځه وه چی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په مطلق شکل مسلمانه شوه.

س ۱۴: له هغو غلامانو نه چی ازاد شوي وو څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: زید د حارثه ځوی د ازاد شویو غلامانو نه لومړی کس و چی مسلمان شو.

س ۱۵: له غلامانو نه څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: بلال د رباح ځوی رضی الله عنه د غلامانو نه لومړی کس وو چی مسلمان شو.

س ۱۶: د طایف د وګړو نه څوک اول مسلمان شو؟

ځ: یو هلک چی (عداس) نومیده، دا هغه وخت و چی پیغمبر علیه السلام د طایف وګړو ته د اسلامي دعوت د رسولو په موخه طایف ته ولاړ او هلته د طایف د خلکو له خوا د هغه مبارک دعوت و نه منل شو او ماشومان یی ور پسی کړل بد رد یی ورته وویل په تیږو یی وویشت، پیغمبر عیه السلام د بني ربیعه د دیوال شاته پناه یوړه هلته عداس موجود وو په پیغمبر علیه السلام یی زړه و سو او د انګورو یوه غنچه یی ورته راوړه پیغمبر علیه السلام د هغه تحفه قبوله کړه او دعا یې ورته وکړه، خبری یی ورسره وکړی، دین ته یی دعوت کړو هماغه و چې عداس دعوت قبول کړو او مسلمان شو.

س ۱۷: له یهودو نه څوک لومړی مسلمان شو؟

ځ: عبد الله د سلام ځوی د حارث لمسی د یهودو لومړی کس وو چې مسلمان شو.

س ۱۸: لومړی هجرت کوم هجرت و؟

ځ: لومړی هجرت د حبشی هجرت و.

س ۱۹: چا لومړی حبشی ته هجرت وکړو؟

ځ: دغو لاندنیو کسانو لومړی هجرت کړی دی:

عثمان د عفان ځوی او د هغه میرمن، رقیهٔ د محمد علیه السلام لور، ابو حذیفهٔ د عتبهٔ ځوی او د هغه میرمن سهلهٔ د سهیل لور، ابو سلمهٔ او د هغه میرمن ام سلمهٔ، عبد الرحمن د عوف ځوی، عثمان د مظعون ځوی، عامر د ربیعهٔ ځوی او د هغه میرمن لیلی د خیثمهٔ لور، ابو سبرهٔ د ابی دهم ځوی، حاجب د معمر ځوی، سهیل د وهب ځوی، عبد الله د مسعود ځوی، دوی په پټه له مکی نه ووتل او ساحل ته د رسیدو سره سم د تجارانو دوه کشتی راورسیدی دوی له ځانه سره واخستل او حبشی ته یی ورسول دا د رجب میاشت او د نبوت پنځم کال و.

س ۲۰: په اسلام کی لومړنی فدایی څوک و؟

ځ: علی د ابی طالب ځوی: دا ځکه چې کله پیغمبر علیه السلام هجرت کولو نو علی رضی الله عنه د کفارو د تېر ویستلو په موخه د پیغمبر علیه السلام په کټ کی پریوت.

س ۲۱: کوم وفد د لومړی ځل لپاره پیغمبر علیه السلام ته راغی؟

ځ: د حبشی وفد، ابن اسحاق وای: پیغمبر علیه السلام په مکه کې و چې د حبشی له نصاراو نه شل او یا نږدې شل کسان راغلل، پیغمبر علیه السلام یی په مسجد کی و موند، ور سره کښیناستل، خبرې یی ور سره و کړی او پوښتنې یی تری و کړی، د قریشو ځنی خلک د کعبی شاو خوا په خپلو محفلونو کی ناست وو، کله چې له پیغمبر علیه السلام سره د خبرو اترو او له هغه څه چې دوی غوښتل خلاص شوو، پیغمبر علیه السلام ورته د اسلام د منلو دعوت ور کړ او قرآن یی ورته ولوست، کله چی دوی قرآن واورید سترګی یی له اوښکو نه ډکی شوی، بیا یې دعوت قبول، ایمان یې پری راوړ او د هغه تصدیق یی و کړ، او په پیغمبر علیه السلام کی یی هغه صفات ولیدل چی د دوی په کتاب کی راغلی وو، کله چی د پیغمبر علیه السلام له مجلس نه پاڅیدل ابو جهل د یوې ډلې سره دهغوی په مخکې ودرید او ورته ویی ویل: داسی وفد دی هلاک شي، تاسی د خپل دین خلکو راولیږلئ چې د دې سړي په هکله خبر ورته یوسئ او تاسی له دې سره په مطلق کیناستو خپل دین پریښود او پر ده مو ایمان راوړ او د ده د وینا تصدیق مو و کړ، ستاسی په شان احمق وفد خو مونږ لا نه وو لیدلی، دوی ورته وویل: سلام علیکم، مونږ له ستاسی سره له جهالت نه کار نه اخلو، مونږ لره هغه څه دی چی له مونږ سره دي او له تاسی سره هغه څه دی چی له تاسی سره دی.

س ۲۲: د مسلمانانو لومړی قبلهٔ کومه وه؟

ځ: د مسلمانانو لومړی قبله بیت المقدس و کومه چی د هجرت په ۱۷مه یا په ۱۸مه او یا هم په ۱۶ مه میاشت د شعبان په میاشت کی بدله شوه.

س ۲۳: چا لومړی کعبی ته لمونځ وکړ؟

ځ: سعید د معلی ځوی کله چی پیغمبر علسه السلام د قبلی د بدلیدو خطبه ویله نو دی پاڅیدو او د کعبی په طرف یی دوه رکعته لمونځ وکړ، ویل کیږی چې کله د قبلې د بدلیدو په هکله په پیغمبر علیه السلام وحی نازل شوه نو په دی وخت کی سعید لمونځ کاو نو هغه پیغمبر علیه السلام ته شا ور وګرځوله او لمونځ یی پوره کړو.

س ۲۴: کوم لمونځ وه چی پیغمبر علیه السلام لومړی د کعبی په لور وکړو؟

ځ: د مازدیګر لمونځ لومړی لمونځ و چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د کعبی په لور وکړو.

محمد خلیل

سوله؛ سیمه ییزه اړتیا

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile 0700252598
E-mail ...@yahoo.com

په افغانستان کې د رواني جګړې د خاتمې او دایمي سولې د ټینګښت په موخه د افغانستان د پخواني ولسمشر استاد برهان الدین رباني په مشرۍ یو وفد پاکستان ته لاړ، څو هلته له پاکستاني لوړ پوړو چارواکو سره سولې ته د رسېدو په باب خبرې اترې شریکې، او یو بل ته هغه مهمې نقطې په ګوته کړي چې د سولې د ټینګښت لپاره بنسټیز رول لري.

د سولې د هیئت غړو په پاکستان کې له ولسمشر آصف علی زرداري نه نیولې تر صدراعظم، یوسف رضا ګیلاني، د آی ایس آی مشر شجاع پاشا، لوی درستیز اشفاق کیاني، د جمعیت العلماء اسلام مشر مولانا سمیع الحق، د جماعت اسلامي پخوانی مشر قاضي حسین احمد او د مسلم لیګ مشر نواز شریف سره پر هغو مسایلو مفصلې خبرې وکړې چې په افغانستان کې د سولې د تأمین او د جګړې د خاتمې لپاره ضروري دي.

افغاني هیئت او پاکستاني چارواکو خپل دغه لیدنې کتنې بریالۍ ګڼلې او بشپړ باور یې څرګند کړی چې دغه لیدنې کتنې به په نږدې وخت کې مثبتې پایلې ولري.

که څه هم په دې سفر کې له طالبانو سره کومې خبرې اترې نه دي شوي خو تمه یې ښکاره کړی چې له هغوی سره به هم د خبرو اترو لړی پیل شي.

پاکستان ته د افغاني هیئت ورتګ ځکه اړین وه چې دواړه هېوادونه تقریباً له یو ډول مشکلاتو سره مخامخ دي، د افغانستان د جګړې لمنه پاکستان ته هم غځېدلې ده او دواړه هېوادونه د ناامنی په ژرنده کې دل کیږي، که دواړه هېوادونه ددغې اور د مړ کولو لپاره ګډ پلان او دریځ خپل نه کړي نو دواړه هېوادونه به د امن له خواږې فضا نه برخمن نه شي.

د دواړو ګاونډي هېوادونو امنیت د یو بل له امنیت او استحکام سره تړل شوې، دې د افغانستان امنیت د پاکستان د امنیت لپاره او د پاکستان امنیت د افغانستان د امنیت لپاره بنسټیز رول لري.

خمکنیو حقایقو دا ثابته کړې ده چې تر څو پورې په دواړو هېوادو کې امن او استحکام نه وي ټینګ شوې او دواړو هېوادو پخپلو کې د ښه ګاونډیتوب او وروروللي رښتینی لاسونه نه وي ورکړی په یواځې ځان پخپلو مشکلاتو قابو نه شي راوستلې، افغانستان د پاکستان له مرستې پرته او پاکستان د افغانستان له مرستې پرته خپلو موخو ته نه شي رسیدلې. ښه به دا وي چې دواړو هېوادو چارواکي او ولسونه د یو بل ضرورت، وزن او اهمیت وپیژني او هیڅ یو لوری بل لوری ته په کمه سترګه ونه ګوري، که پاکستان تېر دی نو افغانستان دهغه لاستی دی، او که افغانستان تېر دی نو پاکستان دهغه لاستې ده، روس غوندې د پراختیا غوښتونکی هېواد یرغل مخه دهمدغې ګډې مرستې له برکته ونیول شوه، که هغه مهال دواړو هېوادو ددغه وحشي یرغلګر پر خلاف د مرستې لاسونه نه وای ورکړی نو روسي خامار به د دواړو هېوادو استقلال تر پښو لاندې کړی و، نه به افغانستان آزاد و او نه پاکستان، بلکې د دواړو هېوادو ولسونه به د غلامي زنځیرونه په غاړه ګرځول.

وخت د هېڅا انتظار نه کوي او په چټکی سره تیریږي. نه ښایي چې دواړه هېوادونه د غفلت او بې حسي په درونه خوب ویده شي او د حالاتو نزاکت او حساسیت ونه پیژني، نور وخت ددې رارسیدلې چې تیرې سهوې او تیر وتنې په چټکی سره جبران او له یاده وویستلې شي، د حالاتو د قابو کولو او سم سمکی د راوستلو لپاره په نوی جذبه او صمیم عزم کار ته ملا وتړله شي، په هغو خنډونو او لاملونو باندې ژور فکر و کړی شي چې د دواړو هېوادو مستقلې ګټې او استقلال ته ګواښونه راپیدا کړي دي. موږ خپل دین، استقلال، خپلې ګټې او خپل تشخص هله ترلاسه کولې شوو چې پخپلو کې د اختلاف پر ځای اتفاق او د جګړو پر ځای د امن په تغر راټول شوو. ټول په ګډه دهغه څه دترلاسه کولو لپاره یو لاس شو چې د بې اتفاقي په صورت کې زموږ دښمنان له موږ نه تر وړل غواړي، موږ باید په دې واقعیت پوه شوو چې زموږ دښمن یو دی، که هغه نن د افغانستان پر ګټو ګډه اچولی شي سبا ته د پاکستان پر ګټو هم صرفه نه کوي، همداراز کوم هېواد چې د پاکستان وجود او استقلال نه شي زغملی د فرصت په وخت کې د افغانستان استقلال هم نه شي زغملې، دا چې اوسمهال د خپلو خپلو ګټو په خاطر له افغانستان او پاکستان سره د دوستي خبره کوي دا د مؤقتي مصلحتونو پر بنسټ دي چې کله هم ورته موقع په لاس ورشي نو یوې شیبې لپاره به هم صبر ونه کړي، ددې ټولو ګواښونو د مخنیوی یواځینی لاره داده چې د افغانستان او پاکستان چارواکی د خپل ولس له هغو خلکو سره خبرو اترو ته کینې چې له پردیو څخه د خپلو هېوادونو د استقلال په ادعا وسله اوچته کړې ده او دواړه هېوادونه عملاً د جنګ ډګرونه ګرځیدلي دي، څرګنده خبره ده چې تر څو پورې حکومت هغوی ته او هغوی حکومت ته قناعت ورنکړي یا په بله معنی دواړه یوې ګډې فیصلې ته ونه رسیږي نو پاکستاني او افغاني چارواکي هر ګز ددې توان نه لري چې په دواړو هېوادونو کې امن ټینګ کړي، تېره لس کلنه تجربه موږ ته دا حقیقت جوتوي چې د جنګ او فشار له لارې د مخالفینو ختمول ناشوني او محال دی، که چېرته دا کار شوني وای نو د تېرو نهو کلو په پراخ وخت کې به شوني شوې و، نو ځکه پکار دي چې په افغانستان او پاکستان کې د سولې د راوستو لپاره امریکا، ناټو غړي هېوادونه او ملګري ملتونه هم د زړه له کومې مرسته وکړي او هغه واقعیتونه ومني چې دهغوی په نظر کې نیولو سره واقعي سوله او ثبات راتلې شي.

که چېرته امریکا او ناټو غړي هېوادونه واقعیتونو ته پاملرنه ونه کړي او پخپلو شرایطو د سولې د راوستلو فرمایشونه ورکړي نو ښکاره خبره ده چې د سولې دا هلې ځلې به کومې مثبتې لاسته راوړنې ونه لري. د افغانستان ځوریدلي او غمځپلي ولس یواځې دهغو هلو ځلو ملاتړ کوي چې د واقعیتونو په نظر کې نیولو سره پیل شوې وي، د افغانانو هغو ګټو او حقوقو ته پاملرنه شوي وي چې د یو آزاد هېواد او ملت په ځیر یې لري، ښه به دا وي چې د سولې په خبرو اترو کې امریکا او ناټو غړی هېوادونه هم په بشپړ ډول شریک کړی شي او یا هم ددې خبرې قوي ضمانت ورکړي چې کومه موافقه او تړون د حکومت او مخالف څواکونو ترمنځ لاس لیک شي دهغه منل پر موږ لازم دي. که هغوی زموږ پر موافقاتو خپل رضایت ونه ښیي او دهغوی له عملي کولو څخه ډډه وکړي نو زموږ د سولې هلې ځلې به د وخت له ضیاع پرته بله هیڅ ګټه ونلري او د جګړې لمبې به د پخوا په څېر پورته کیږي. لهذا له همدې نن نه ددې خبرې ضرورت دی چې د واقعي سولې د راوستو لپاره پر داسې مضبوطو بنیادونو کار وکړې شي چې دواړه لورې په دې خبره باوري شي چې دا هلې ځلې واقعاً د سولې د راوستو او د جګړې د خاتمې لپاره ترسره کیږي. داسې هیڅ خلا او کمی دې پکې پرې نږدې چې د سولې هلې ځلې سبوتاژ کړي او دواړه لورې د بې اعتمادې ښکار شي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

داړیکې شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ایمیل

shahadatnews_kabul@yahoo.com

دیزاین: خواجه وحیدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر

سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو د ایران له خوا د افغان سوداګرو د تېلو د ټانکرونو د درولو او په افغانستان کې د تېلو د لوړو بیو او په نړیوال مارکیټ کې د کوکنارو د ارزښت په اړه مطالب خپاره کړي دي. د دوی په وینا په افغانستان کې د تېلو بیې مخ په لوړېدو دي او کیدای شي چې د ایران او افغانستان ترمنځ اړیکې کړکیچنې شي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز ورځپاڼې د ایران له خوا افغانستان ته د تیلو د ټانکرونو د نه پرېښودو موضوع راخستې او لیکي، چې د ایران دغه اقدام افغانان د تیلو له کمښت سره مخامخ کړي دي.

نیویارک ټایمز لیکي، د ایران له خوا په سرحدي سیمه کې له تیرو څه کم دوو میاشتو راهیسې افغانستان ته د تیلو د ټانکرونو د نه پرېښودو په نتیجه کې په افغانستان کې د تیلو بیه لوړه شوې ده.

ورځپاڼه زیاتوي، چې د تصفیه شوو تیلو د کموالي له امله د افغانستان په یو شمیر ولایتونو کې د تیلو بیه پنځوس په سلو کې لوړه شوې ده او دا د دې سبب شوی، چې په لویو لارو د تیلو پمپونه وتړل شي.

دې کار په یو شمیر سیمو کې د سون موادو تر څنګ د خوراکي موادو د کموالي ستونزه هم رامنځته کړې ده.

د مطلب لیکونکي وایي، دغې موضوع د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکي د کړکیچ په لور سمې کړي او د افغان ولسمشر او ناټو ځواکونو په وړاندې یې، چې غواړي د افغانستان خلکو ته

اسانتیاوې او خدمات برابر کړي، یوه بله ستونزه پیدا کړې ده.

د نیمروز ولایت د سوداګرې د خونې مشر حاجي عبید الله نوري وایي، په دغه ولایت کې د تصفیه شوو تیلو بیه دري پنځوس په سلو کې پورته تللې او د یوه ټن قیمت له ۹۸۰ ډالرو څخه ۱۵۰۰ډالرو ته لوړ شوی دی.

د نوموړي د تخمین پر اساس په نیمروز کې اتیا په سلو کې د تیلو پمپونه تړل شوي دي.

نشنل انټرسټ:

د امریکا معتبرې خپرونې نشنل انترست بیا په افغانستان کې د مخدرو موادو پرضد مبارزې ته کتنه کړې ده او په دوام کې یې لیکي، په دې وروستیو څو میاشتو کې ملګرو ملتونو او ناټو په افغانستان کې د نشه یي موادو د کمښت په اړه خبرې کولې.

خپرونه وایي، ترسره شوې څېړنه ښیي، چې دا کموالي په اصل کې د هغې طبیعي افت له امله راغلی، چې د کوکنارو بوټي وهلي دي.

نو په همدې اساس دغه کموالي یوه موقته پدیده ده او ریښتیا خو دا ده، چې په افغانستان کې د نشه یي موادو پرضد مبارزه کې کوم پرمختګ نه دی شوی.

په عین حال کې د افغانستان د کورنیو چارو د وزارت مرستیال محمد ابراهیم ازهر وایي، په افغانستان کې په ۲۰۱۰ کال کې د نشه یي موادو په کښت او تولید کې ۴۸ فیصده کموالی راغلی او په دې سره د مخدرو موادو بیه دوه برابره شوې ده.

نو له همدې خایه دا د درک وړ ده، چې کروندګر به د زیاتې ګټې لپاره بیا د کوکنارو کښت ته مخه کړي.

هنگام بازداشت اسدالله وحیدی با وی رفتار غیر انسانی صورت گرفته است

مطبوعات:

مدیر مسوول روزنامهء سرنوشت می گوید، در هنگام بازداشت اش در لوی څارنوالی با وی رفتار غیر انسانی صورت گرفته است.

اسد الله وحیدی روز یکشنبه به لوی څارنوالی فراخوانده شد و پس از سپری کردن ۲۸ ساعت در حبس، نیمهء دیشب رها گردید.

تا حال لوی څارنوالی در این مورد تبصره نکرده است.

مدیر مسوول روزنامه سرنوشت به خاطر چاپ گزارشی در مورد تشکیل یک گروه افراد مسلح توسط برادر رنګین دادفر سپنتا مشاور امنیت ملی افغانستان و ذکر نام سپنتا زندانی گردیده بود.

تظاهرات اتحادیه کارگران افغان در مقابل سفارت ایران

کلید:

اتحادیه ملی کارگران افغانستان در عکس العمل به منع عبور تانکرهای مواد سوختي افغاني از سرحدات ایران به افغانستان دست به تظاهرات زدند. این تظاهرات کننده ها خواهان مداخله فوری سازمان ملل متحد در زمینه منع عبور تانکر های تیل و توقف برخورد های غیرانسانی نیرو های ایرانی در مقابل مهاجرین افغان در آن کشور شدند.

تظاهر کننده ها پیام اعتراضیه خود را در مقابل دفتر یوناما و سفارت ایران در کابل به خوانده و بعداً متن آنرا به این دو مرجع تسلیم نمودند. در قسمتی از این پیام آمده است: «اتحادیه ملی کارگران افغان اعتراضات شدید خود را مبنی بر تخلفات جمهوری اسلامی ایران اعلان می دارد، این تخطی شما خلاف تمام قوانین بین المللی می باشد."

با آن که انتقال تیل از طریق سرحدات ایران به افغانستان به اساس توافق بین هر دو کشور صورت میگیرد، اما دولت ایران از افغانستان میخواهد تا میزان واردات تیل مورد نیاز خود را از طریق سرحد ایران مشخص کند. رحیم محمدی سرقنسول ایران در هرات روز گذشته در یک مصاحبه اختصاصی به رادیو کلید، علت متوقف شدن تانکر های تیل در مرز ایران را محدودیت مواد سوختی برای نیروهای ائتلاف به رهبری امریکا در افغانستان دانست.

اما مقامات وزارت تجارت و صنایع افغانستان می گویند، این مواد نفتی را تاجران افغان صرف برای مصرف موتر های افغانی به کشور وارد می کنند و وزارت تجارت و صنایع کشور توقف مواد نفتی افغانی در بندر های ایران را خلاف اصول و موازین بین المللی عنوان کرده اند.

د افغانستان د سولې عالي شورا ...

غړو لومړنی بهرنی سفر و.

د دغه شورا مشر برهان الدین رباني وویل، چې دوی به د سولې د روانو هڅو لپاره د نور ملاتړ د جلبولو لپاره نورو ګاونډیو هېوادونو ته هم سفر وکړي.

ښاغلي رباني د روان میلادي کال د مارچ په لومړۍ نېټه د سعودي چارواکو په بلنه د جدې سفر ته هم اشاره وکړه.

د سولې عالي شورا خپلې هڅې په داسې حال کې بریالۍ بولي، چې د دغه شورا د ترکیب په اړه ځینې انتقادونه کیږي.

ویل کیږي، چې د سولې د عالي شورا مشري یې داسې چاته سپارلې، چې پراخې نارضایتي ورڅخه موجودې دي.

خو ښاغلي رباني دغه ګنګوسې ردوي او وایي، چې د سولې د عالي شورا ډېري غړي هغه کسان دي، چې په نورو رژیمونو کې یې جګړې کولې، خو اوس مهال وسلوال سولې ته رابولي.

"د سولې په پروسه کې د ټولو هغو سیاسي احزابو ګډون، چې د طالبانو په ریژیم کې یې په سیمو کې ډېر جنایت شوی و، په دې معنا دی، چې ټولو پرېکړه کړې، چې له دې وروسته د خونړیو جګړو شاهد نه وي. موږ ټول باید د سولې له پروسې څخه ملاتړ وکړو او د جګړې لپاره هیڅ بهانه ونه لټوو، دغه سوله د ټولو هیله او اړتیا ده."

د سولې د عالي شورا هدف، چې له وسلوالو مخالفینو سره د خبرو او تفاهم رامنځته کول دي، د روان کال د تلې د میاشتې په پنځلسمه نېټه د سولې د ملي مشورتي جرګې د پرېکړې پربنسټ جوړه شوه.

ځینې کتونکي د سولې او پخلاینې روانې هڅې پیچلې بولي او انتقاد کوي، چې د دغې جرګې فعالیتونه نمایشي بڼه لري.

خو د سولې د عالي شورا وایي، چې دوی د سیمې او نړیوالو په همکاری هڅه کوي، چې وسلوال مخالفین سولې ته راوبولي او په افغانستان کې جګړې ته د پای ټکې کېږدي.

حضور تروریستان در قلمرو ...

را هدف قرار می دهند، بلکه خود پاکستان را نیز دچار مشکلات بزرگی کرده اند.

حکومت افغانستان پیش از این پیوسته از جامعه جهانی خواسته تا مراکز تروریستان را در خاک پاکستان هدف قرار بدهد، اما گفته می شود به این تقاضا توجه لازم نشده است.

د ناټو په بمباری کې ۳ پولیس ...

شي او بېګناه خلک ونه وژل شي خو داسې ښکاري چې سهواً بېګناه کسان په نښه شوي دي.

د دایکنډي دا پېښه د نړیوالو ځواکونو له لوري په څه باندې یوه میاشت کې دریمه پېښه ده چې افغان ځواکونه پکې په نښه کېږي.

جنګېدونکي طالبان د خپلو مشرانو ...

افغانستان حکومت به د دغه قوم پرېکړه بې اهمیته ونه ګڼي بلکې هغې ته به هرکلی ووایي.

پیترایس هلمند ته د دې لپاره تللی وو چې د والي ګلاب منګل او الکوزو ترمنځ د موافقې په باب خبرې وکړي.

د ناټو عمومي قومندان وویل چې طالبان په هلمند او کندهار کې مخ په کمزورېدو دی.او د دوی د جنګي کسانو او هغو مشرانو چې د پاکستان په خاوره کې یې اړولي دي او پر دوی امر کوي چې په ژمې کې هم وجنګېږي،اختلاف پیدا شوی او په عین حال کې د ناټو له لوري د طالبانو د متوسطې سطحې مشرانو په نښه کولو هم مرسته کړې چې په دې ډله کې درز رامنځته شي.

جنرال پیټرایس طالبانو ته اوښتې مرګ ژوبلې خورا زیاتې وبللې او ویې ویل چې له دې کبله د طالبانو د قوماندې او کنټرول مرکزي هسته له مشکلاتو سره مخامخ شوې ده.

ده د الکوزیو له لوري دا اعلان چې له خپلې سیمې څخه به بهرني طالبان باسي او افغان طالبان به نه پرېږدي چې حمله وکړي د خپلې ادعا ثبوت وباله.

د تېرې اوونۍ د دوشنبې په ورځ د هلمند د والي ویندوی وویل چې په څاروان کلا کې د دولت او طالبانو ترمنځ د سیمې د مشرانو او سپین ږیرو په منځګړتوب اوربند شوی.

د هلمند د والي ویاند داوود احمدي وایي چې دا په هلمند ولایت کې لومړی ځل دی چې دا ډول اوربند کېږي.

په افغانستان کې د امریکا د سمندري پلیو ځواکونو قومندان هم ډګرجنرال ریچارډ میلز هم ویلي ووچې دا موافقه په سنګین ولسوالی کې د قومي مشرانو او د هلمند د والي ګلاب منګل ترمنځ د ایتلافي ځواکونو په مشوره شوې.

ډګرجنرال میلز وایي چې په موافقې کې طالبان هم برخه لري او د اوو طالب قومندانانو نومونه هم د سولې په موافقې کې شامل دي.

د تېرې اوونۍ د چهارشنبې په ورځ په ځینو راپورونو کې وویل شول چې وسله والو طالبانو د څارروان کلا د سیمې پر مشرانو حمله کړې ده.

په راپورونو کې راغلي وو چې د سیمې قومي مشر سید بدراغا وروسته له دې چې له څاروان کلا څخه وتښتول شو، وهل شوی دی.

خو دولتي مقاماتو تراوسه پورې په دې باب څه نه دي ویلي.

عربي هیوادونه دې د منځني ...

وخت لرې چې په دې لړ کې اقدامات وکړي خو د هغې په وینا دا وخت دومره زیات هم نه دی.

د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیرې ویلي که چیرته ایران اټومي وسلې جوړې کړي نو دا به په منځني ختیځ کې د اټومي وسلو د ترلاسه کولو یوه ورانونکې سیالي وپاروي.

هغې ویلي دا د سیمې د هیوادونو په ګټه ده چې ایران له اټومي وسلو جوړولو منع کړي.

میرمن کلینټن وړاندې ویلي ایران نه غواړي چې فلسطینیان او اسرایل په خپلو کې د سولې موافقې ته ورسیږي.

هغې د سیمې پر مشرانو غږ وکړ چې د هر چا لخوا د هر هغه اقدام مخه ونیسي چې د جګړې د پارولو سبب کیږي.

عربي ژبو رسنیو ته نوموړې په خپلو خرګندونو کې غوښتنه کړې چې په منځني ختیځ کې د سولې به خاطر باید عرب هیوادونو د سعودي عربستان د د سولې د نوښت ملاتړ وکړي.

د سعودي عربستان په نوښت کې راغلي چې عربي هیوادونو به فلسطینیانو ته د مخکې په مقابل کې له اسرایلو خپلې اړیکې نورماله کړي.

په خلیج عربي هیوادونو کې میرمن کلینټن مطبوعاتو سره په خپلو خبرو کې د سیمې پر ښځو هم غږ وکړ چې په ټولنه کې دې د خپلو حقونو د ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې وکړي.

د سخت دریځی په هکله په خپلو څرګندونو کې د امریکا د باندنیو چارو وزیرې وویل د سخت دریځی د مخنیوي لپاره باید په خاصه توګه په ځوانه طبقه کې د زغم او پرمختګ مفکوره پراخه شي.

هیلري کلینټن د امریکا په ایریزونا ایالت کې وروستي وسله وال برید ته په اشاري سره وویل سخت دریځي د نړۍ د نورو برخو په شان په امریکا هم شته او باید چې په وړاندې یې مبارزه وشي.

اوپا فیصده هالنډیان افغانستان ...

کړې ده چې په افغانستان کې به دخپلې ډلې امنیت په خپلو سرتېرو ساتي او که اړتیا سوه نو روزونکي به په جګړه هم لاس پورې کوي، د مخالفت سلینه تر اویا پورې ورسېده.

په پام کې ده چې د روزونکو او ددوی د همکارانو دا ډله چې شمېر به یې ۳۶۰ کسانو ته رسیږي د سږ کال په دوبي کې افغانستان ته ولیږل سي، هالنډ له پخوا څخه په افغانستان کې ۴ ایف شپاړس جیټ الوتکې او ۱۲۰ د هوایي قوا سرتیري او کارکوونکي لري چې په کندهار کې په دنده بوخت دي.

د تېر په څېر اوس په سیاسي ډلو کې هم افغانستان ته د پوځیانو لیږلو سره مخالفت زیات سوی دی، که څه هم افغانستان ته د پولیسو او پوځ روزونکو لیږل د هالنډ د لومړي وزیر "روته" پلان دئ، خو د نوموړي وزیر دسیاسي ډلې VVD زیات شمېر غړي د نوموړي سره ددې پلان په ترسره کولو کې مرسته نه کوي.

په هالنډ کې د CDA نومي سیاسي ډلې یوازې ۳۷سلنه غړي د ذکر سوي پلان سره موافق دي په داسې حال کې چې ددوی ایتلافي حکومت تېر کال په افغانستان کې د هالنډي پوځیانو پاته کېدو پر سر ونړېدئ، خو د خیرت ویډلدرز PVV نومي سیاسي ډلې ۸۵سلنه غړي له دې پلان سره مخالفت دي.

ځینې نور لاملونه چې هالنډیان د ناټو په چوکاټ کې افغانستان ته له تګ سره مخالفت ته هڅوي دادي چې دوی وایي په افغانستان کې د ناټو قواو د شتون موده په پرله پسې ډول اوږدیږي، د لنډې مودې مخکې اقتصادي بهران هم ددې پلان په ترسره کولو کې رول لوبوي. ځینې هالنډیان دا دلیل څرګندوي چې دولت چې یوې خواته د سپما نارې وهي خو افغانستان ته د روزونکو پر لیږلو بیا ۴۷۰ میلیونه یورو خرڅوي.

دننګرهار کانال له ۲۳ کلن ځنډ...

دخوړو لپاره استفاده شي.)

دننګرهار د کانال ریاست په داسې حال کې دخپلو ځمکو دګر خبره کوي، چې په دې ولایت کې ددې ریاست په ډېره ځمکه دوی واک نه لري او خلک یې په خپل سر په کې کر کیله کوي. دننګرهار ولایت اوسېدونکي که څه هم تر ۲۳ کلن ځنډ وروسته دکانال ریاست له خوا د خپلو ځمکو بېرته تر لاسه کول او کرل ښه ګام ګڼي، خو وایي، دکانال زرګونه هکټاره نورې ځمکې خلکو غصب کړي او د کانال چارواکي یې نه یوازې جدي غوښتنه نه کوي، بلکې ددولتي ځمکو په غصب کې په خپله همدا چارواکي هم شریک ګڼي. ددوی په وینا د کانال ریاست دې هڅه وکړي په هر قیمت چې دخلکو له خوا په زوره نیول شوې ځمکې بیرته ترلاسه کړي.

دننګرهار ولایت دغني خیلو ولسوالي یو تن اوسیدونکي محمدنادر سره له دې چې د کانال ریاست له خواپه دې ځمکه د غنمو کرښه بولي، خو په وینایي په دې اندیښمن دی چې لاهم ډیره ځمکه خلکو په غصب نیولې:(تقریباً ۲۰۰۰۰ هکتاره پورې ځمکه خلکو نیولې، دولت ته په کار وه، چې دا یې لس کاله وړاندې کرلې وی، ترڅو یې دخلکو له نیولو مخنیوی شوی وی.) نوموړی ددې کار پړه په خپله په دولتي چارواکو وراچوي او دا هم وایي، چې پولیس دکانال شنې ونې پلوري او له خلکو نه پرې پیسې اخلي. ننګرهار دکانال رئیس انجینر حکیم دخلکو دا تورونه ردوي او زیاتوي چې دوی هڅه کوي هغه ځمکې چې دخلکو له خوا غصب شوې بیرته دولت ته وسپاري.

دیادونې وړ ده چې دننګرهار په کانال کې زرګونه هکټاره دستروسو او زیتونو ونې، دنویو نیالګیو دپالنې، نور یې زینتي ونې او دمالداری دفارمونو زرګونه انواع دولتي وسایل او څاروي موجود وو، چې ډېره برخه یې په کورنی بې نظمی او جنګ جګړو کې چور شوې او یا هم دزورواکو له خوا لاندې شوي او لږه برخه یې دحامد کرزي په ۹ کلنه دوره کې هم دقانون تر پردې لاندې دزورواکو او چارواکو له خوا لوټ شوې، ان د فارمونو اوسنۍ موجوده ونې هم دشپې له خوا په پټه غوڅېږي او دځمکو په ناقانونه خرڅلاو کې یې دجلال آباد ځینې پیسه دار سوداګر شپه او ورځ لالهانده دي، خو ددولت لوړ پوړي چارواکي هم ددې کار دمخنیوې په برخه کې پاتې راغلي او دغصب شوو ځمکو دبیرته ترلاسه کولو څخه ناتوانه دي.